# په کابل کښې
# د پښتو نړېوال کانفرنس

**ګل آغا احمدي وردګ**

د افغان کلتوري ټولنو د کابل ښار د لویې جرګې په تاریخي خېمه کښې د پښتو دوه ورځنے نړېوال کانفرنس جوړ کړو. دغه کانفرنس چې د ۲۰۰۹ د اکتوبر د میاشتې په ۸ نېټه پېل شوے ؤ په یو شمېر مثبتو نتائجو د ۲۰۰۹ د اکتوبر په نهمه نېټه ماښام پایې ته ورسېد. چې د هېواد یو شمېر لوړ رتبه دولتي چارواکو، د کابینې یو شمېر وزیرانو، د ملي شورىٰ وکیلانو، پوهانو، استاذانو، د کلتوري کړیو استاځو، مینه والو



د کوزې پښتونخوا او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه راغلیو مېلمنو پکښې ګډون کړے ؤ، چې شمېر ئې د زرو تنو شاوخوا وۀ.

د پښتو نړېوال کانفرنس چې سرچینه ئې له کوزې پښتونخوا څخه اخستې او تر دې مهاله وخت په وخت شپږ ځلې په پېښور او کوئټه کښې منعقد شوے ؤ، دا ځل په کابل کښې وشو.

په کابل کښې د پښتو د نړېوال کانفرنس د افتتاحي غونډې ویاند ښاغلے عبدالغفور لېوال ؤ. دا کانفرنس د قاري فضل الدین سراجي په تلاوت او د افغانستان په ملي سرود سحر لس بجې شروع شو. ورپسې د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم عبدالکریم خرم د افغانستان د اولسمشر جلالتماب حامد کرزي پېغام ولوست چې په خپل پېغام کښې ئې د کانفرنس په جوړېدو خوښي څرګنده کړې وه او دغه ډول کانفرنسونه ئې د وخت یوه اهمه اړتیا ګڼلې وه او د دې ډول سلسلې د جاري ساتلو هیله ئې څرګنده کړې وه او دا کار ئې د هېواد روان ناورین ته د ختمولو، صلحې او امن په راتللو کښې ئې اهم ګام ګڼلے ؤ. اولس مشر حامد کرزي په خپل پېغام کښې دغه ډول کانفرنسونه د پښتنو د ټولو پرګنو تر منځ د یووالي دپاره ګټور بللے وۀ.

د پښتونخوا د وزیر اعلي جلالتمآب امیر حېدر خان هوتي پېغام د ښاغلي ډاکټر فضل الرحیم مروت له خوا ولوستل شو چې نوموړي هم د خپل پېغام په ترخ کښې د سیمې د امن لپاره هیله ښودلې وه او د هغو استعماري سیالیو یادونه ئې کړې وه چې پښتون قوم ئې د جګړو، بدبختیو او ورانیو په لوګیو کښې راګېر کړے او په هوښیارۍ سره ئې له هغه څخه د وتلو غوښتنه کړې وه. هغۀ هم دا رنګه د پرمختګ په لاره کښې مثبته سیالي، امن، صلح او ښۀ ژوند د پښتنو طبیعي حق ګڼلے ؤ. نوموړي هم دا

رنګه د خپل پیغام په ترځ کښې افغانستان د اېشیاء د زړهٔ په توګه یاد کړے ؤ او د دې زړهٔ د ساتلو هیله ئې څرګنده کړې وه څو ټوله نړۍ ورسره آرامه وي. نومړي په ټولو پښتنو شاعرانو، ادیبانو، لیکوالانو او پوهانو غږ کړے ؤ چې دغه کانفرنس کامیاب کړي.




ورپسې د نړۍ له ګوټ ګوټ نه د راغلیو پیغامونو یادونه وشوه او د ویاند له لوري د کانفرنس د کار طریقه یا اجنډا بیان شوه.

ښاغلي زرین انځور د غونډې افتتاحي وینا وکړه. دوي د پښتو د نړیوالو کانفرنسونو په سلسله ځغلنده نظر واچوو او خپله وینا ئې په څو اهمو ټکو راوڅرخوله چې ډېرې اهمې برخې ئې د کانفرنس نوې بڼه، د اساسي ستونزو څېړل، د پښتو ژبې او کلتوري ودې د مسائلو په حقله د یوې استراتیژۍ د طرحې رامنځته کول وو. نومړي د خپلې وینا په لړ کښې د پښتو د نړیوال کانفرنس ټولو ګډونوالو او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه راغلیو استاځو ته هرکلے ووایهٔ او د هغوي شکریه ئې ادا کړه.

شبوګلې او مقدر له یوه منظم میوزک سره یو ځائے د ماشومانو یوه خوږه ترانه په ترنم سره ولوسته. ښاغلي ډاکټر خوشحال روهي په کابل کښې د پښتو د نړیوال کانفرنس موخې او هدفونه د یو پریزنټېشن په شکل وړاندې کړل چې په څلورو لویو موخو مشتمل وو چې د پښتو ژبې وده، د ناوړه دودونو اصلاح، د کلتوري هڅو همغږي او نزدیوالي، په نړیوال جال د پښتنو د اړیکو او ګلوبلائزېشن یا نړیوال کېدو په اهم دور کښې د پښتو ژبې د ساتلو، ملاتړ او پر مختګ مسائل او د ستونزو څېړل ئې اهمې موخې دي. د کلتوري او ښوونیزو چارو په ډګر کښې د پښتنو د هڅو همغږي کول، له یو بل سره د افکارو تبادله، پېژندنه او د یو بل له تجربو څخه استفاده د دې کانفرنس بله لویه موخه ده چې له کبله ئې دغه نړیوال کانفرنس جوړ شوے ؤ. د پښتنو استعدادونو وده، د هڅو شریکول د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې له پښتنو لیکوالو، شاعرانو، لیکوالانو، پوهانو او ادیبانو سره د دوي د هڅو، ژباړې او لیکنې په برخه کښې د هڅو همغږي کول بله هغه لویه موخه ده چې په کابل کښې به د پښتو نړیوال کانفرنس پالي. پښتنو ته به ورپیښې رواني ستونزې راسپړي، تشخیص کوي به ئې او هغه به د دې کانفرنس د ګډونوالو د نظریاتو په رڼا کښې حل کوي.

منګل افغان د «زما مورې» تر سرلیک لاندې یوه ښکلې سندره له خوږې موسیقۍ سره یو ځائے د غونډې ګډونوالو ته وړاندې کړه. دا افتتاحي تقریب د محمد نعیم محمدزي د شپنو د زړهٔ وړونکي شپېلۍ سره سر ته ورسېدو.

هم په دغه ورځ د ماسپښین د مانځهٔ څخه وروستو د کانفرنس د لومړۍ ورځې دویمه برخه پیل شوه. لومړے د موضوع په اړوندې ستونزې تشخیص او بیا تشخیص شوو ستونزو ته د حل معقولې او علمي حل لارې ولټول شوې چې نتیجې

ئې په هم دغه ورځ په عمومي غونډه کښې د ښاغلي ډاکټر ابراهيم شينواري، ښاغلي زردشت شمس، ښاغلي ملنګ ابراهيمي او ګل آغا احمدي وردګ په وسيله اعلان شوې.

د کمېټو د رپورټونو اورولو نه پس ښاغلي ډاکټر خوشحال روهي له هغو يو شمېر موسساتو او اشخاصو مننه وکړه چې په کابل کښې ئې د پښتو د نړيوال کانفرنس راجوړولو کښې برخه اخستې وه. ښاغلي ډاکټر خوشحال روهي د غونډې وينډويي د کوزې پښتونخوا څخه راغلي مېلمه ښاغلي ډاکټر عالم يوسفزي ته وسپارله او د پښتو ژبې نومیالي څېړونکې، تاريخ پوه، ليکوال، شاعر او اديب ښاغلي استاذ حبيب الله رفيع ته ئې د مجلس د ارزونې د وېنا د اورولو بلنه ورکړه.



استاذ حبيب الله رفيع په کابل کښې د پښتو دا نړيوال کانفرنس ډېر مثبت وګرځوۀ او ځينې هغه ستونزې ئې په ګوته کړې چې لوئې افغان اولس ورسره په دې اهم پړاؤ کښې مخ دے. دوي ووې چې د ټولو ستونزو سره سره دغو لويو غميزو پښتون اولس ته يو مثبت ټکے هم له ځان سره راوړے دے چې هغه د اولس بېداري ده، په ښه توګه د يو بل پېژندنه، ملي يووالے، په ډراماتيک توګه د پښتو ژبې وده، له يو بل سره همغږي او د يو بل په ژبه، افکارو پوهېدل ګڼل کېږي. دوي د پښتنو د بيلوالي د ناوړه هڅو د شنډېدلو په حقله دغه مشهور متل هم پېش کړو چې (اوبه په ډانګ نۀ بيلېږي) او د بېلتون ټولې فرضي، جبري او استعماري کرښې پښتانۀ له يو بل څخه نۀ شي بيلولي چې د پښتو د نړيوالو کانفرنسونو سلسله ئې يوه غوره نمونه ده. پښتانۀ بايد علم دوست، څېرک، هوښيار، صلح جو او امن خوښوونکي وي او د خپلو علمي او کلتوري ارزښتونو د پياوړتيا په وسيله د دې روان ناورين او سترې بدمرغۍ مخه ونيسي چې دغه ستر ملت ته متوجه ده. دوي د پښتو کتابونو، خبري رسنيو او کلتوري ارزښتونو د پياوړتيا په بهير خوښي څرګنده کړه او وې وئيل چې پخوا زمونږ د ودې بهير د حکومتونو په لاس کښې ؤ او د هغۀ رحم ته به محتاج وو چې پرمختګ ډېر محدود ؤ خو اوس چې دغه پر مختګ د اولس لاس ته راغلے دے نو مونږ د زرګونو پښتو کتابونو، ورځپاڼو، مجلو او برېښناپاڼو شاهدان يو چې پښتنو ته يو ښۀ زيرے په خپله لمن کښې لري. استاد حبيب الله رفيع خپلې خبرې په دغه دوو بيتونو سره پايې ته ورسولې چې:

په پوکو د دښمنانو به مړه نۀ شي
د پښتو شمع بليږي په طوفان کښې

د کوزې پښتونخوا او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د راغليو مېلمنو او استاځو له لنډو وېناوو څخه وروستو په کابل کښې د پښتو د نړيوال کانفرانس پرېکړه ليک د آغلې ياسمين څېړۍ له خوا و لوستل شو. دا نړيوال کانفرنس د يوۀ درانۀ مشر ښاغلي ميراجان سحيقي له لوري په دعا پايې ته ورسېد.